# څنګه په ښوونځي کې د خپل ماشوم او ځان لپاره استازیتوب وکړو

## استازیتوب څه شی دی؟

د خپل ماشوم لپاره استازیتوب پدې معنی دی چې د هغوی د اړتیاوو او حقونو د ملاتړ لپاره غږ پورته کړئ او اقدام وکړئ. په دې کې نه یوازې د خپل ماشوم لپاره، بلکې د نورو څو ژبو زده کوونکو او کورنیو لپاره هم، د ښوونځي په کړنو او پریکړو کې د بدلونونو لپاره هڅه کول شامل دي. ستازیتوب د خپل غږ په کارولو سره په تعلیم او د ښوونځي په ټولنه کې د مثبت بدلون په رامنځته کولو کې مرسته کول دي. کله چې ستاسو ماشوم لویږي، نو دا مهمه ده چې هغوی تاسو ووینې چې د دوی لپاره استازیتوب کوئ - ترڅو دوی زده کړي چې څنګه د اړتیا پر مهال د ځان لپاره استازیتوب وکړي.

## دا ولې مهمه ده چې کورنۍ د خپلو ماشومانو لپاره استازیتوب وکړي؟

- دا د کور او ښوونځي ترمنځ اړیکې او همکاري ښه کوي.
- دا ډاډ ورکوي چې زده کوونکي اړین ملاتړ ترلاسه کوي.
- دا په زده کوونکو او د هغوی په کورنیو کې باور او مشرتابه پیاوړي کوي.
- دا یو داسې زده کړې چاپېریال ته وده ورکوي چې په هغه کې ټول زده کوونکي بامعنا ښوونیزو فرصتونو ته لاسرسی ولري.

## څنګه کولی شئ په فعاله توګه د خپل ماشوم او ځان لپاره استازیتوب وکړئ؟

**اړیکې جوړې کړئ:**

- د خپل ماشوم ښوونکي، مشاورین او د ښوونځي مدیر وپېژنئ.
- له نورو والدینو سره د یو بل د ملاتړ لپاره اړیکه ونیسئ.

**سمدستي اقدام وکړئ:**

- خپلې اندېښنې زر تر زره شریکې کړئ.
- مه پرېږدئ چې ستونزې لویې شي.

**په ښوونځي کې ښکېل شئ:**

- له ښوونکو او خپل ماشوم سره په ګډه د ښوونیز کال لپاره موخې وټاکئ او د راپیدا شوو ستونزو لپاره حل لارې ومومئ.
- د خپل توان سره سم د ښوونځي په غونډو او مراسمو کې ګډون وکړئ. د ښکېلتیا لپاره نورې لارې وړاندیز کړئ چې تاسو یې غواړئ.
- له ښوونکو او د ښوونځي له کارکوونکو سره دوامداره اړیکه وساتئ او د خپل ماشوم په زده کړه کې ښکېل پاتې شئ.

**نور نظرونه:**

- تاسو د استازیتوب د ارزښت او هغو لارو په اړه نور څه فکر لرئ چې له لارې یې کولی شئ د خپل ماشوم او ځان لپاره غږ پورته کړئ؟

WIDA
UNIVERSITY OF WISCONSIN–MADISON
wida.wisc.edu
WIDA is housed within the School of Education at the University of Wisconsin–Madison.
© 2025 Board of Regents of the University of Wisconsin System, on behalf of WIDA